# دَ اِفِسیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

١ ① دَ پولوس له طرفه چه دَ خُدائے په مرضئ دَ مسیح عیسیٰ رسُول دے، دَ
هغو پاکانو په نُوم چه په اِفِسوس کښے دی اَؤ دَ مسیح عیسیٰ ایماندارو شاګردانو
ته،

② دَ پلار خُدائے اَؤ دَ مالِک عیسیٰ مسیح له طرفه دِ تاسو سره فضل اَؤ
سلامتی وی.

## په مسیح کښے رُوحانی برکتُونه

③ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ خُدائے اَؤ پلار ثنا دِ وی څوک چه مُونږ ته دَ
مسیح په وسیله په آسمانی ځایُونو کښے هر قِسم رُوحانی برکتُونه راکوی. ④
ځکه چه هغهٔ مُونږ په خپلے مینے کښے دَ دُنیا دَ پیدایښت نه مخکښے په مسیح
کښے غوره کړلُو چه مُونږ دَ هغهٔ په نِزد پاک اَؤ بے عیبه شُو.

⑤ اَؤ هغهٔ دَ خپلے مرضئ دَ نیکے اِرادے په مُطابق مُونږ دَ ځان دَ پاره مُقرر
کړلُو چه دَ عیسیٰ مسیح په وسیله دَ هغهٔ بچی شو، ⑥ دَ پاره دَ دے چه دَ هغهٔ دَ
فضل دَ جلال ستائنه وی چه مُونږ ته ئے په هغه محبُوب کښے ویړیا راوبخښه.

⑦ مُونږ ته دَ مسیح دَ وینے په وسیله خلاصُون، یعنے دَ ګُناهونو مُعافی، دَ هغهٔ
دَ هغه فضل دَ دولت په مُطابق حاصله ده، ⑧ چه هغهٔ په هر جوړ حِکمت اَؤ
پوهه په مُونږ پریمانه نازله کړه. ⑨ نو هغهٔ دَ خپلے مرضئ راز دَ خپلے هغے
نیکے اِرادے په مُطابق په مُونږ ظاهر کړو کُوم چه مسیح له مخکښے نه پُوره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوُونکے وو. ۞ دا اِراده چه دَ وخت دَ پُوره کیدو سره به مُکمله شی، چه په
مسیح کښے ټول څیزُونه راغُونډ شی، که هغه په آسمان کښے وی یا په مزکه.

⑪ خُدائے هر څهٔ دَ خپلے مرضئ اَؤ دَ اِرادے په مُطابق کوی اَؤ هغهٔ مُونږ په
مسیح کښے غوره کړلُو چه مُونږ دَ هغهٔ شُو. دا هر څهٔ دَ هغه اِرادے په مُطابق
چه خُدائے په ازل کښے کړی وُو، وشول، ⑫ دَ دے دَ پاره چه مُونږ چه دَ اول
نه په مسیح اُمید تړلے وو، دَ هغهٔ دَ جلال دَ ستائینے باعث شُو.

⑬ اَؤ تاسو هم دَ هغهٔ خلق جوړ شوئ، کله چه تاسو دَ حق کلام واؤریدو،
یعنے هغه زیرے چه تاسو پرے خلاصُون ومُوندلو، اَؤ بیا په هغهٔ مو ایمان راؤړو
اَؤ خُدائے دَ خپلے وعدے په مُطابق په تاسو دَ رُوحُ القُدس مُهر ولګوو. ⑭ هم
هغه رُوح چه زمُونږ دَ میراث ضمانت دے، تر څو چه مُونږ هغه ټول څیزُونه
ومُومو چه خُدائے ئے مُونږ سره وعده کړی وه، چه مُونږ دَ خُدائے دَ خلاصُون
په وسیله دَ هغهٔ ملکیت یُو، نو دَ هغهٔ دَ جلال دِ ستائینه وی.

## دَ پولوس دُعا

⑮ زَهٔ په دے وجه دَ هغه ایمان چه ستاسو په مینځ کښے په مالِک مسیح دے
اَؤ هغه مینه چه دَ ټولو پاکانو سره لرئ په آؤریدو ⑯ ستاسو په باب کښے دَ
شکر ویستو نه پاتے کیږم نه، اَؤ په خپلو دُعاګانو کښے تاسو یادوم، ⑰ چه
زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح خُدائے چه دَ جلال پلار دے تاسو له خپل رُوحُ
القُدس درکړی اَؤ هغه رُوح تاسو له حِکمت درکړی، اَؤ چه تاسو ته به ئے
خُدائے ظاهر کړی چه تاسو هغه ښه وپیژنئ. ⑱ اَؤ زَهٔ غواړم چه ستاسو دَ زړهٔ
سترګے روښانه شی چه تاسو پوهه شئ چه هغهٔ تاسو دَ څومره لوئے اُمید دَ پاره
رابللی یئ، یعنے هغه شاندار میراث چه هغهٔ دَ خپلو خلقو دَ پاره ساتلے دے
څومره لوئے دولت دے، ⑲ اَؤ زمُونږ ایمان راوړُونکو دَ پاره دَ هغهٔ لوئے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قُدرت ځومره بیشانه دے. دا زوره ور قُوت په مُونږ کښے خپل اثر اچوی. ۲۰
دا هم هغه قُوت دے چه دَ کُوم په وسیله چه خُدائے مسیح له مړو نه بیا
راژوندے کړو اَؤ خپل ښی لاس ته ئے په آسمان کښے کښینولو. ۲۱ اَؤ هلته
ئے مسیح دَ هر قِسم حُکومت اَؤ اِختیار اَؤ قُدرت اَؤ ریاست اَؤ دَ هر یو نُوم نه
زیات اُوچت کړو کُوم چه به نهٔ تش په دے جهان کښے بلکه په راتلُونکی جهان
کښے هم آخستلے شی. ۲۲ اَؤ هر څهٔ ئے دَ هغهٔ دَ پښو دَ لاندے کړل اَؤ هغه
ئے دَ ټولو څیزُونو سردار جوړ کړو، اَؤ جماعت له ئے ورکړو چه هغه دَ
جماعت مالِک شی. ۲۳ جماعت دَ مسیح بدن دے، دا بدن دَ هغهٔ نه کامل کیږی
چه هغه له ټولو نه په هر څهٔ کښے کامل وی.

## دَ مرګ نه ژوندُون

۲ ۱ تاسو هم دَ خپلو قصُورونو اَؤ ګُناهُونو په سبب مړهٔ وئ، ۲ کله چه
تاسو دَ دے دُنیا په کږو لارو روان وئ، اَؤ دَ هوا دَ عمل داریٔ دَ حاکِم، یعنے دَ
هغه رُوح پسے تللیٔ کُوم چه اوس په نافرمانو بچو کښے اثر کوی. ۳ په دویٔ
کښے مُونږ ټولو هم دَ خپل وجُود په خواهشُونو کښے ژوند تیرولو اَؤ دَ وجُود اَؤ
نفس مرضی مو پُوره کوله، اَؤ دَ نورو په شان په اِنسانی طور دَ خُدائے دَ غضب
دَ لاندے وُو.

۴ خو خُدائے چه په رحم غنی دے دَ هغهٔ دَ خپلے لوئے مینے په سبب چه
هغهٔ زمُونږ سره وکړه ۵ چه مُونږ چه دَ ګُناهُونو په وجه مړهٔ وُو نو مُونږ ئے دَ
مسیح سره بیا ژوندی کړُو. تاسو په فضل خلاصُون مُوندلے دے. ۶ اَؤ
خُدائے مُونږ دَ مسیح عیسیٰ سره راژوندی کړُو اَؤ په آسمان کښے ئے دَ هغهٔ
سره کښینولُو، ۷ چه هغهٔ دَ مسیح عیسیٰ په وسیله مُونږ ته دَ مهربانیٔ په طور
دا کړے وو، هغهٔ دا ځکه وکړو چه په راتلُونکو زمانو کښے هغه خپل بے اندازے
فضل په مُونږ ښکاره کړی. ۸ ځکه چه تاسو دَ ایمان په وسیله په فضل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاصُون مُوندلے دے، دا ستاسو له طرفه نه نه، بلکه دَ خُدائے بخښنه ده. (۹)
اَوْ دا دَ عملُونو په سبب نۀ ده، دَ پاره دَ دے چه څوک فخر ونۀ کړی. (۱۰) ځکه
چه مُونږ هم خُدائے جوړ کړی یُو اَوْ مُونږ دَ مسیح عیسیٰ په یووالی کښے دَ هغه
ښۀ کارُونو دَ پاره پیدا شوی یُو کُوم چه خُدائے دَ اول نه مُونږ دَ پاره تیار کړی
وُو.

## دَ مسیح سره یووالی

(۱۱) نو یاد لرئ چه تاسو په پیدائشی طور دَ غیرو یهُودیانو نه وئ، اَوْ یهُودیان چه
په لاسو سُنت شوی دی چه دَ سُنتیدو په سبب سُنت شوی بللے شی، تاسو ته نا
سُنت وائی. (۱۲) تاسو په تیره زمانه کښے دَ مسیح نه جُدا، دَ اِسرائیل دَ بادشاهئ
نه خارج، اَوْ دَ وعدے دَ لوظُونو نه نابلده، نااُمیده اَوْ په دُنیا کښے دَ خُدائے نه
جُدا وئ. (۱۳) خو تاسو چه اول لرے وئ اَوْ دَ مسیح په یووالی کښے دَ مسیح دَ
وینے په وسیله نزدے شوئ. (۱۴) ځکه چه هم هغه زمُونږ صُلح ده، یعنے دَ
یهُودیانو اَوْ دَ غیر یهُودیانو. اَوْ دَ جُدائی کُوم دیوال چه په مینځ کښے وو، هغه ئے
ونړوو، (۱۵) یعنے دَ شریعت هغه حُکم چه دَ شریعت په طور وو، ئے منسُوخ
کړو چه خپل ځان کښے دَ دواړو نه یو نوے اِنسان پیدا کړی اَوْ صُلح راولی،
(۱۶) اَوْ دَ خپلے سُولئ په وسیله دُښمنی ختمه کړی چه دَ هغے په وسیله دواړه
په یو بدن کښے شریک کړی اَوْ خُدائے سره ئے یو کړی. (۱۷) مسیح راغے اَوْ
تاسو چه لرے وئ اَوْ هغه چه نزدے وُو، دواړو تۀ ئے دَ صُلح زیرے درکړو.
(۱۸) ځکه چه دَ هغۀ په وسیله مُونږ دواړه دَ یو رُوح په وسیله دَ پلار په حُضور
کښے حاضریږُو.

(۱۹) نو اوس بیا تاسو پردی اَوْ مُسافران پاتے نۀ شوئ بلکه دَ پاکانو دَ وطن اَوْ دَ
خُدائے دَ کورنئ شوئ. (۲۰) اَوْ دَ رسُولانو اَوْ نبیانو په بُنیاد تاسو ودان کړے
شوی یئ چه دَ کُوټ سره کاڼے په خپله مسیح عیسیٰ دے. (۲۱) مسیح په خپله دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې مانۍ هره يوه حصه يو ځائې ساتی چه په رب کښې يو پاک کور جوړ
شی. ۲۲ نو تاسو هم دَ هغهٔ په يووالی کښې دَ نورو سره دَ خُدائې يو داسې
کور جوړيږئ چه په کُوم کښې خُدائې دَ خپل رُوح په وسيله اوسيږی.

## دَ پولوس دَ غير قومُونو دَ پاره خدمت

**۳** ۱ هم په دې وجه زَهٔ پولوس تاسو غيرو يهُوديانو له خاطره دَ مسيح عيسیٰ
قيدی يم. ۲ شايد چه تاسو به دَ خُدائې دَ هغه فضل په باب کښې کُوم چه
ستاسو دَ پاره په ما وشو، آؤريدلی وی، ۳ يعنې دا چه هغه راز ما ته دَ کشف
په وسيله معلُوم شو لکه چه ما اول دَ هغې لږ شان حال ليکلې دے. ۴ دَ
هغې په لوستلو تاسو معلُوملې شئ چه زَهٔ دَ مسيح په هغه راز ښومره پوهيږم،
۵ چه هغه راز په تيرو شوو زمانو کښې بنی آدمو ته دغه شان معلُوم شوے نهٔ
وو ښنګه چه هغه ئې پاکو رسُولانو اَؤ نبيانو ته دَ رُوحُ القُدس په وسيله اوس
ښکاره کړے دے. ۶ اَؤ هغه راز دا دے چه دَ زيری په وسيله غير يهُوديان دَ
يهوديانو سره دَ خُدائې په ميراث کښې برخه ولری، اَؤ په يو بدن کښې شامل،
اَؤ دَ خُدائې په هغه لوظ کښې شريک شی چه هغهٔ دَ مسيح عيسیٰ په وسيله
وکړو.

۷ اَؤ دَ خُدائې دَ هغه فضل په بخښنه چه دَ هغهٔ دَ قُدرت په تاثير په ما وشو، زَهٔ
دَ دې زيری خادم شوم. ۸ په ما چه زَهٔ په ټولو پاکانو کښې له ورکوټی نه
ورکوټے يم، دا فضل وشو چه زَهٔ غير يهُوديانو ته دَ مسيح دَ بې اندازې دولت
زيرے ورکړم، ۹ اَؤ په ټولو دا خبره ښکاره کړم چه هغه راز چه له ازل نه دَ
ټولو څيزُونو په پيدا کوُونکی خُدائې کښې پټ وو، هغه به څرګند کړی، ۱۰ چه
اوس دَ جماعت په وسيله دَ خُدائې قِسم قِسم حِکمت هغه حاکمانو اَؤ دَ واک
خاوندانو ته معلُوم شی څوک چه په آسمان کښې دی، ۱۱ دَ هغې ازلی اِرادې
په مُطابق کُومه چه هغهٔ زمُونږ دَ مالِک مسيح عيسیٰ په وسيله سر ته ورسوله.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۲) په عيسىٰ مسيح کښې اَؤ په هغهٔ دَ ايمان لرلو په وسيله مُونږ ته زړه ورتيا ده چه مُونږ په پُوره تسلئ سره دَ خُدائے په مخکښې حاضرېدے شُو. (۱۳) نو بيا زَهٔ خواست کوم چه تاسو زما دَ هغه مُصيبتُونو په وجه هِمت مه بائيلئ کُوم چه ستاسو دَ خاطره زغمم، ځکه چه هغه ستاسو دَ پاره لوئى ده.

## دَ مسيح مينه پيژندل

(۱۴) په دے سبب زَهٔ دَ هغه پلار په وړاندے په زنګنو کيږم، (۱۵) چا نه چه دَ آسمان اَؤ مزکے هره يوه خيلخانه خپل حقيقى نُوم مُومى، (۱۶) چه هغه دَ خپل جلال دَ دولت په مُطابق تاسو ته دا څهٔ درکړى چه تاسو په خپل باطنى اِنسانيت کښے دَ هغهٔ دَ رُوح په وسيله ډير زوره ور شئ، (۱۷) اَؤ دَ ايمان په وسيله مسيح ستاسو په زړُونو کښے ځائے ومُومى. زَهٔ دُعا کوم چه تاسو په مينه کښے پوخ بيخ ولرئ. (۱۸) چه دَ ټولو پاکانو سره په ښهٔ شان سره معلُوم کړے شئ چه دَ مسيح دَ مينے پلنوالے، اُوږدوالے، اُوچتوالے اَؤ ژوروالے څومره دے، (۱۹) اَؤ دَ مسيح په هغه مينه پوهه شئ کُومه چه دَ پوهے نه بهر ده، چه تاسو دَ خُدائے په ټوله معمُورئ کښے معمُور شئ.

(۲۰) اوس چه څوک داسے قادر دے چه دَ هغه قُدرت په مُطابق چه په مُونږ کښے اثر کوى، زمُونږ دَ خواست اَؤ خيال نه ډير زيات کار کولے شى، (۲۱) هغهٔ ته دِ په جماعت کښے اَؤ په عيسىٰ مسيح کښے تل تر تله، پيړئ په پيړئ جلال وى! آمين.

## دَ مسيح دَ بدن يووالى

۴ (۱) نو زَهٔ چه دَ مالِک په وجه قيد شوے يم، تاسو ته خواست کوم چه په کُومه بلنه چه تاسو راغوښتے شوى وئ دَ هغے په شان ژوند تيروئ. (۲) يعنے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پُوره په عاجزئ، نرمئ، صبر اَؤ په مينه يو بل زغمئ. ﴿۳﴾ اَؤ دا کوشِش کوئ چه
کُوم يووالے چه رُوحُ القُدس درکوی، دَ صُلح په تړُون ئے وترئ. ﴿۴﴾ بدن يو
دے اَؤ رُوحُ القُدس هم يو، نو تاسو چه رابللے شوی وئ نو دَ خپلو رابللو اُميد
مو هم يو دے، ﴿۵﴾ يو مالِک دے، يو ايمان، يوه بپتسمه، ﴿۶﴾ اَؤ دَ ټولو خُدائے
اَؤ پلار هم يو دے څوک چه دَ ټولو دَ پاسه، دَ ټولو په مينځ کښے اَؤ په ټولو
کښے دے.

﴿۷﴾ اَؤ په مُونږ کښے هر يو له دَ مسيح دَ بخښنے دَ اَندازے په مُطابق نعمتُونه
راکړی شوی دی. ﴿۸﴾ دغه وجه ده چه هغه فرمائی چه:

”هر کله چه هغه دَ آسمان نه پورته وختلو

نو قيديان ئے دَ ځان سره بوتلل

اَؤ خلقو له ئے تُحفے ورکړلے.“

﴿۹﴾ دَ هغهٔ پورته په ختو نور څهٔ مطلب کيدے نهٔ شی بے له دے نه چه دَئے دَ
مزکے لاندے برخے ته هم راکُوز شوے وو. ﴿۱۰﴾ اَؤ دا راکُوز شوے هغه دے
څوک چه دَ ټولو آسمانُونو نه هم پورته ختلے دے، دَ دے دَ پاره چه ټول کائنات
معمُور کړی. ﴿۱۱﴾ اَؤ هغهٔ ځنے رسُولان، ځنے نبيان اَؤ ځنے ئے زيرے
آؤروُونکی اَؤ ځنے شپانهٔ اَؤ اُستاذان مقرر کړی دی، ﴿۱۲﴾ دَ دے دَ پاره چه دَ
خُدائے خلق دَ خدمت دَ پاره تيار شی اَؤ دَ مسيح بدن په مُونږ کښے وده
ومُومی، ﴿۱۳﴾ تر څو چه مُونږ ټول په ايمان راوړلو کښے يو شُو اَؤ دَ خُدائے
زوئے په ښهٔ شان وپيژنو. دغسے به مُونږ په ايمان کښے بالغان شُو، يعنے دَ
مسيح په شان به کامل شُو، ﴿۱۴﴾ دَ دے دَ پاره چه مُونږ نور وړاندے ماشُومان
پاتے نهٔ شُو اَؤ دَ خلقو دَ چل ول اَؤ مکارئ په تعليم لکه دَ چپو ديخوا اخوا نهٔ
ګرزُو. داسے تعليم ورکوُونکی دَ خپلو منصُوبو په وجه خلق ګمراه کوی. ﴿۱۵﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکه مُونږ ته په مینه کښې حقیقت وئیل په کار دی اَؤ دَ مسیح په شان جوړیدلو سره په مخه تلل، چه هغه دَ بدن سر دے. ⑯ دَ هغهٔ په وسیله دَ بدن هره یوه حصه یو ځائے کیږی اَؤ دَ بدن دَ خپل هر یو پیوند په مدد قائم وی، چُنانچه دَ بدن هره یوه حِصه په ښهٔ شان کار کوی نو ټول بدن پرے وده کوی اَؤ په مینه کښې ترقی هم مُومی.

## نوے ژوندُون دَ مسیح په یووالی کښے

⑰ ځکه زَهٔ دا وایم اَؤ په مالِک کښې درته دا تاکید کوم لکه چه غیر قومُونه دَ خپلو فضُولو خیالاتو په مُوافق روان دی، تاسو دَ آئنده دَ پاره داسے مه چلیږئ.
⑱ ځکه چه دَ هغوئ په عقل پردے پرتے دی، اَؤ دَ هغه ناپوهئ په سبب چه دوئ ئے لری اَؤ دَ خپلو زړُونو دَ سختئ له کبله دَ خُدائے دَ ژوندُون نه بهر دی.
⑲ هغوئ دَ بے شرمئ سره شهوت پرستی اِختیار کړے ده دَ دے دَ پاره چه هر گنده کار په حرص وکړی.

⑳ خو تاسو دَ مسیح داسے تعلیم نهٔ دے مُوندلے. ㉑ تاسو خو دَ هغه حقیقت په مُطابق چه په عیسیٰ کښے دے، دَ هغه مو واؤریدل، اَؤ په هغهٔ کښے به مو دا تعلیم مُوندلے وی، ㉒ چه تاسو دَ خپل زوړ چلند هغه زوړ اِنسانیت پریږدئ کُوم چه دَ فریب دَ شهوتُونو په سبب لگیا دے خرابیږی. ㉓ په کار دی چه ستاسو زړهٔ اَؤ دماغ دِ بیخی نوے شی. ㉔ اَؤ نوے اِنسانیت خپل کړئ کُوم چه دَ خُدائے په مُطابق دَ حقیقت په صداقت اَؤ پاکوالی کښے ښکاره کیږی.

## دَ نوی ژوندُون دَ پاره حُکمُونه

㉕ نو بس دروغ وئیل پریږدئ اَؤ هر څوک دِ دَ خپل گاونډی سره رښتیا ووائی ځکه چه مُونږ ټول دَ یو بدن اَندامُونه یُو. ㉖ که چرته غُصه شوئ نو په غُصه کښے گُناه مه کوئ اَؤ خپله غُصه دَ نمر دَ پریوتو نه اخوا مه اُوږدوئ، ㉗ اَؤ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِبلیس ته موقعه مه ورکوئ. ﴿۲۸﴾ غل دِ بیا غلا ونۀ کړی بلکه څۀ ښۀ کسب دِ شروع کړی اَؤ په خپلو لاسُونو دِ محنت اَؤ کټه کوی، دَ دے دَ پاره چه حاجتمندو ته دَ ورکولو دَ پاره دَ هغۀ سره هم څۀ وی. ﴿۲۹﴾ ستاسو دَ خُلے نه دِ هم یوه خرابه خبره ونۀ شی بلکه هغه ښه خبره چه دَ ضرورت په مُطابق دَ ترقئ دَ پاره غوره وی، دَ دے دَ پاره چه دَ هغے له مخے دَ هغے په آؤریدُونکو فضل کیږی. ﴿۳۰﴾ اَؤ دَ خُدائے پاک رُوح خفه کوئ مه، دَ کُوم نه چه په تاسو دَ خلاصُون دَ ورځ دَ پاره مُهر لګولے شوے دے. ﴿۳۱﴾ دَ هر قِسم تریخوالی، قهر، غضب، شور زوږ، بد خواهش اَؤ بد خویُونه دِ له تاسو نه لرے وی ﴿۳۲﴾ اَؤ هر یو په بل مهربانه اوسئ اَؤ یو تر بله نرمی کوئ، اَؤ لکه چه خُدائے په مسیح کښے ستاسو ګُناهُونه معاف کړل، تاسو هم یو بل معاف کوئ.

## دَ نُور دَ بچو په شان چلیدل

**۵** ﴿۱﴾ اَئے په خُدائے ګرانو بچو! کوشِش کوئ چه دَ هغۀ په څیر لاړ شئ. ﴿۲﴾ اَؤ داسے مینه کوئ لکه چه مسیح تاسو سره وکړله اَؤ زمُونږ دَ پاره ئے خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خُدائے ته نذرانه کړو اَؤ قُربان شو.

﴿۳﴾ اَؤ څنګه چه پاکانو له پکار دی په تاسو کښے دِ دَ حرامکارئ، یا دَ هیڅ قِسم ناپاکئ، یا لالچ ذکر قدرے هم نۀ وی، ﴿۴﴾ اَؤ نۀ بے شرمی، نۀ کم عقلے خبرے اَؤ نۀ وشتے ملنډے، ځکه چه دا بے ځایه خبرے دی دَ دے په ځائے دَ خدائے شکر کوئ. ﴿۵﴾ ځکه چه تاسو ته دا ښه معلُومه ده چه دَ حرامکار، ناپاک، یا حرصناک چه دَ بُت پرست په شان دے، دَ مسیح اَؤ دَ خُدائے په بادشاهئ کښے دَ میراث حق نِشته.

﴿۶﴾ تاسو دِ هیڅوک په تشو دلیلُونو ونۀ غُلوی ځکه چه هم دَ دے په وجه دَ خُدائے غضب په هغوئ نازلیږی څوک چه دَ هغۀ نافرمانی کوی. ﴿۷﴾ نو دَ هغوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کارُونو کښے شریکیږئ مه. ۸ ځکه چه اول تاسو تیارهٔ وئ خو اوس دَ
مالِک په یووالی کښے تاسو نُور یئ. نو دَ هغه خلقو په شان وچلیږئ چه نُور وی،
۹ دَ دے دَ پاره چه دَ نُور میوه هم هر قِسم نیکی، صداقت اَؤ حقیقت ده. ۱۰
اَؤ دا معلُوموئ چه مالِک په څهٔ خوشحالیږی. ۱۱ اَؤ دَ تیارے په بے فائدے
کارُونو کښے حصه مه آخلئ بلکه هغوئ ته بد وایئ. ۱۲ اَؤ کُوم کارُونه چه
هغوئ په پټه کوی، دَ هغے ذکر قدرے هم دَ شرم خبره ده. ۱۳ اَؤ هر کله چه یو
څیز دَ نُور لاندے راشی نو هغه څرګند شی. ۱۴ هر څهٔ چه څرګند شی لکه دَ نُور
روښانه شی ځکه داسے وئیلی شوی دی چه :

”اَئے اُودو! ویښ شئ، دَ مړو نه راپاڅئ!

نو دَ مسیح نُور به په تاسو روښانه شی“

۱۵ اوس دے ته پام وکړئ چه تاسو څنګه چلیږئ. دَ ناپوهو په شان نه، بلکه دَ
هوښیارانو په شان چلیږئ. ۱۶ اَؤ وخت غنیمت وګڼئ ځکه چه زمانه بده ده.
۱۷ نو ځکه کم عقل کیږئ مه بلکه په دے ځان پوهه کړئ چه دَ مالِک مرضی
څهٔ ده.

۱۸ اَؤ په شرابو مستیږئ مه ځکه چه دَ دے نه بدکاری پیدا کیږی، بلکه په پاک
رُوح معمُور شئ. ۱۹ اَؤ په خپلو کښے زبُور، سندرے اَؤ رُوحانی غزلے وایئ،
اَؤ په خپلو زړُونو کښے دَ مالِک سندرے اَؤ حمدُونه وایئ. ۲۰ اَؤ په ټولو خبرو
کښے زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح په نُوم زمُونږ دَ خُدائے پلار هر وخت شکر
کوئ.

## ښځے اَؤ خاوندان

۲۱ اَؤ دَ مسیح دَ اِحترام له خاطره دَ یو بل تابعداری کوئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ اَئے ښځو! دَ خپلو خاوندانو داسے تابعدارے اوسئ لکه چه دَ مالِک. ۲۳
لکه چه مسيح دَ جماعت سر دے اَؤ هغه په خپله دَ بدن بچ کوُونکے دے دغسے
هر خاوند دَ ښځے سر دے. ۲۴ نو لکه څرنګ چه جماعت دَ مسيح تابع دے
دغه شان دِ ښځے هم په هره خبره کښے دَ خپلو خاوندانو تابع وی.

۲۵ اَئے خاوندانو! دَ خپلو ښځو سره مينه کوئ لکه څنګه چه مسيح دَ جماعت
سره مينه کړے ده اَؤ خپل ځان ئے دَ هغهٔ دَ پاره مرګ ته سپارلے دے، ۲۶ دَ
دے دَ پاره چه هغهٔ ته دَ کلام سره په اوبو غُسل ورکړی، پاک ئے کړی اَؤ مُقدس
ئے کړی، ۲۷ اَؤ داسے دَ جلال جماعت ساز کړی اَؤ ځان ته ئے حاضر کړی،
چه په بدن کښے ئے نهٔ داغ وی، نهٔ ګُنجے، اَؤ نهٔ په کښے بل داسے څهٔ څيز
وی، بلکه پاک اَؤ بے عيبه وی. ۲۸ دغه شان خاوندانو ته لازم دی چه دَ خپلو
ښځو سره دَ خپل بدن په شان مينه کوی. څوک چه دَ خپلے ښځے سره مينه
کوی هغه دَ خپل ځان سره مينه کوی. ۲۹ ځکه چه چرے هم چا دَ خپل بدن
سره دُښمنی نهٔ ده کړے بلکه هغه پالی اَؤ پرورش ئے کوی، داسے لکه چه مسيح
دَ جماعت کولو. ۳۰ ځکه چه مُونږ دَ هغهٔ دَ بدن اَندامُونه يُو. ۳۱ "هم دغه وجه
ده چه سړے به دَ پلار اَؤ دَ مور نه بيل شی اَؤ دَ خپلے ښځے سره به اوسيږی،
اَؤ هغه دواړه به يو بدن شی." ۳۲ دا يو لوئے راز دے خو زهٔ ئے دَ عيسیٰ اَؤ
جماعت په حقله وايم. ۳۳ بهر حال په تاسو کښے دِ هم هر يو دَ خپلے ښځے
سره دَ خپل ځان په شان مينه کوی، اَؤ ښځه دِ هم دَ دے خيال ساتی چه دَ خاوند
عزت کوی.

## بچی اَؤ مور پلار

۶ ۱ اَئے بچو! ايماندارانو ته په کار دی چه دَ خپل مور اَؤ پلار حُکم منی ځکه
چه دا ښه کار دے. ۲ "دَ خپل پلار اَؤ دَ خپلے مور عزت کوئ،" دا اول حُکم
دے چه دا لوظ هم ورسره دے ۳ چه "ستا په کښے خير دے اَؤ په مزکه به دِ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عُمر ډیر شی.“

۴ اَؤ اَئے پلارانو! تاسو خپلو بچو له غصه مه ورولئ بلکه دَ مالِک په طریقه هغوئ ته تربیت اَؤ نصیحت کوئ اَؤ پرورش ئے کوئ.

## غُلامان اَؤ مالِکان

۵ اَئے غُلامانو! په مزکه دَ خپلو مالِکانو په ویره اَؤ رپیدو سره تابعداری کوئ، داسے په صفا زړۀ لکه چه دَ مسیح کوئ. ۶ اَؤ دَ سړو دَ خوشحالؤونکو په شان تش دَ نُمائش خدمت مه کوئ بلکه دَ مسیح دَ غُلامانو په شان دَ زړۀ دَ اِخلاصه دَ خُدائے رضا پُوره کوئ. ۷ اَؤ دا خدمت دَ اِنسان نه، بلکه داسے وګڼئ چه دَ مالِک دے. ۸ ځکه چه تاسو ته معلُومه ده چه هر څوک چه څۀ رنګ ښۀ کار کوی، که غُلام وی که آزاد، دَ مالِک نه به دَ هغے بدل مُومی.

۹ اَئے مالِکانو! تاسو هم دَ هغوئ سره دغه شان سلُوک کوئ. هغوئ ته زورنے مه ورکوئ. خبردار، تاسو دواړه په آسمان کښے یو مالِک لرئ اَؤ هغه دَ هیچا طرفدار نۀ دے.

## دَ بدئ خلاف جنګ

۱۰ لنډه دا چه تاسو دَ مالِک په یووالی اَؤ دَ هغۀ په زورور طاقت کښے خپل توان پیدا کړئ. ۱۱ دَ خُدائے په ټولو وسلو ځان سنبال کړئ دَ دے دَ پاره چه تاسو دَ اِبلیس دَ منصُوبو مقابلے ته ټینګ ودریدے شئ. ۱۲ ځکه چه زمُونږ جنګ دَ اِنسان خلاف نۀ دے بلکه دَ فساد دَ هغه روحانی لښکرو چه په آسمانی ځایُونو کښے دی، دَ حکُومت دَ خاوندانو، دَ اِختیار لرُونکو اَؤ دَ دے دُنیا دَ تیارے دَ حاکمانو سره دے. ۱۳ دَ دے دَ پاره تاسو دَ خُدائے وسلے واغوندئ، بیا به تاسو دَ دے جوګه شئ چه په بده ورځ کښے دَ مُقابلے دَ پاره ودریږئ اَؤ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول کارُونه پُوره کړئ اَؤ بيا هم قائم پاتې شئ.

۱۴ زَهٔ تاسو ته وايم چه مضبوط ودرېږئ اَؤ دَ حقيقت په پټئ ملا وتړئ اَؤ دَ
صداقت زغره واغوندئ. ۱۵ اَؤ دَ صُلح دَ زيرى پيزار په پښو کړئ. ۱۶ اَؤ دَ
هغه ټولو سره دَ ايمان ډالُونه پورته کړئ چه دَ هغې په وسيله به تاسو دَ شيطان دَ
شُغلو ټول غشى مړهٔ کړئ. ۱۷ اَؤ دَ خلاصُون ټوپئ اَؤ دَ رُوحُ القُدس تُوره
راواخلئ چه دَ خُدائے کلام دے. ۱۸ اَؤ هر وخت په هر شان په رُوحُ القُدس
کښې دُعا کوئ اَؤ زارى کوئ، اَؤ دَ دے دَ پاره بيدار اوسئ اَؤ دَ ټولو پاکانو دَ
پاره بې ناغې دُعا کوئ. ۱۹ اَؤ زما دَ پاره هم دُعا کوئ دَ دے دَ پاره چه دَ
وئيلو په وخت ما ته دَ کلام توفيق راکړے شى چه زَهٔ پرے دَ زيرى رازُونه په زړه
ورتيا ظاهر کړم ۲۰ چه دَ چا دَ خاطره زَهٔ په زنځيرُونو تړلے سفير يم. دُعا کوئ
چه زَهٔ په زړه ورتيا خبرے وکړم لکه څنګه چه خبرے کول په ما فرض دى.

## آخرى سلام

۲۱ تاسو به دا معلُومول غواړئ چه زَهٔ څنګه يم، اَؤ څهٔ کوم. تخيکوس چه زما
خوږ ورور دے اَؤ دَ مالِک په کار کښې اِتبارى خادم دے، هغه به تاسو ته هر
څهٔ ووائى. ۲۲ زَهٔ هغه تاسو ته په دے غرض دراستوم چه تاسو به زمُونږ دَ ټولو
دَ حالت نه خبر شئ اَؤ هغه به ستاسو زړُونه سر دوباره زړه ور کړى.

۲۳ دَ خُدائے پلار اَؤ مالِک عيسىٰ مسيح له طرفه دِ ورونړو ته سلامتى حاصله
وى اَؤ په هغوئ کښې دِ دَ ايمان سره مينه وى. ۲۴ څوک چه زمُونږ دَ مالِک
عيسىٰ مسيح لازواله مينه لرى، په هغوئ ټولو دِ دَ خُدائے فضل نازل وى.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
عام ۱۹۹۶ © pashtobibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.